AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال ۲۰۲۲/۰۳/۰۶

# نوستالژي

## او ژور خپګان (Depression) ته

## رواني ورپرځېدنه (سقوط)

رحمان بابا فرمايیلي وو:

**خدايه څه شول هغه ښکلي ښکلي خلک**
**په ظاهر په باطن سپین سپېڅلي خــلــک**

**هېڅ خندا مې له دې خلکو سره نــه شي**
**ژړوي مــې هغه تــلــلــي تــلــلــي خــلــک**

مانا، رحمان بابا هم په کومه تېره زمانه او په تللیو خلکو پسې خپه و.

موږ ته ښايي د رحمان بابا زمانه ډېره ښه بريښي، خو ګورو چې رحمان بابا خپله په کومه بله تېره زمانه پسې ژاړي...

موږ په ظاهرشاهي زمانه پسې ارمان کوو؛ آرام کابل، مست کانسرتونه او با حيثيته وطن... حال دا چې چپو او ښي اړخو سياستوالو د هغه نظام په وړاندې پاڅون ته خلک رابلل.

موږ وايو پخوا ډېرښه وخت و. خو نه پوهېږو، چې ولې ښه وخت و؟

زموږ نيکونو هم ويل، پخوا زماني ښې وې، برکتونه ول، خلک ساده او ريښتيني ول...

موږ ته په تاريخي کتابونو کې راغلي ستر ستر نومونه خورا لوی لوی پوهان ښکاري، چې ښايي د هغوی تولله پوهه اوس په ۱۵ دقيقو کې له بېلابېلو انترنيتي سايټونو راواخيستل او پرېنټ شي.

موږ چې پخوانی سندرې اورو، د تللي زماني خاطرات مو راژوندي شي، کوم څه يا څوک مو زړه کلک کلک وسرويي، د يو ډول ژورخپګان Depression پيل له همدې ځايه راکيږي.

موږ د کابل يا کندهار، يا هرات و بلخ په زړو، خامو، ګرد‌جنو کوڅو پسې خپه کيږو، چې ښايي اوس پخې او ښکلي وي، موږ په هغو زمانو، سندرو او کوڅو کې څه لټوو؟

موږ د هغو اتلانو يا خاينانو پر سر يو بل له ګريوانه رانيولي او سره ښکنځو، چې اوس نه شته، نه هغوی او نه موږ يو بل ته خير و شر وررسولی يا رارسولی شو.

نو کيسه چېرته ده؟



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ښه به نه وي، چې د تاریخ په هدیره کې ټول اروابناد مړي په احترام او عزت په کراره پرېږدو او پر نن و سبا تمرکز وکړو؟

د رحمان بابا تجربه یې راته وایي، چې هېڅ پخوا تر اوسه ښه نه ده، بلکې موږ خپلې نننی ناکامی او بېکارۍ د پخوانۍ ښې زمانې تر شا پټوو.

د نننیو اسلامي ډلو ناکامیو او خپلمنځي خونړیو شخړو، خلک د ظاهرشاهي اسلام په ارمان کړل، وایي: هغه وخت ښه اسلام و.

انسان چې د نن و سبا په جوړولو کې ناکام شي، په تېره زمانه پسې لاسونه مروړي، په نوستالژیک ژور خپګان هغه ولسونه ډېر اخته کیږي، چې له لتۍ څخه د نن و سبا جوړولو پرځای په تېره زمانه پسې ژاړي او وایي، پخوا ښه وخت و.

له دې ناروغۍ د راوتلو لار دا ده، چې:

نیکه دې خدای وبښي، بس له ښو تجربو یې زده کړه په کار ده او بس. نور نو تر اروابناد نیکه ماشوم زوی او د هغه راتلونکې ډېره مهمه ده.

دا ریښتیا ترخه ده، خو ریښتیا ده، چې پر احساساتو بده او په حکمت ښه لګیږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ